مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نائیبي

۲۰۲۵/۰۹/۲۰

# د «نوې نړۍ» سیل

## جولای ۲۰۲۵ – ویرجینیا

## شپږمه او روستۍبرخه

په امریکا کې د کور او کارځایونو ترمنځ اوږدې لارې، د تیلو نسبتاً ټیټې بیعې، په اسانه د موټرچلونې د لایسنس اخیستل او د عامه ترانسپورت محدودیت کېدای شي د خلکو پام د شخصي موټرو لرلو ته زیات کړی وي.

له اوریدو د دې هېواد په ځینو ایالتونو کې د موټر د څوکیو د کمربندونو تړل د ټولو سپرلیو لپاره حتمي نه دی، یواځې د لومړي سیټ سپرلی باید کمربند وتړي. زما ورارہ به چې کله له ما سره په موټر کې سپور و نو کمربند یې نه تاړه، له همدې کبله به زموږ ترمنځ بحث او جنجال وو.

د ترانسپورت اړوند بله جالبه خبره دا وه که چېرې هلته چا موټر بېځایه یا د بل چا په پارک کې دروله، نو د کنترول د مامورینو لخوا په ساحه کې د جریمې ورکول ډېر رواج نه و، بلکې موټر به په بل لوی موټر کې بار او ځانګړو ځایونو ته ولېږدول شو؛ وروسته یې بیا څښتن خپله د موټر ځای پیدا کاوه، جریمه یې تحویلوله او بلاخره به یې موټر بېرته ترلاسه کړ.

د ویرجینیا په هر بازار، سړک او لاره کې سړی خامخا له یو هسپانیوي ژبي سره مخ کېدای شي، دا وګړي په دې هېواد کې د اوسیدو تاریخي ریښي لري. په وروستیو وختونو کې هم له مکسیکو او لاتیني امریکې څخه ګڼشمیر خلک امریکا ته راغلي دي.

په مغازو، رستورانتونو، سرکاري دفترونو لنډه دا چې په هر ځای کې یې حضور پراخ دی. موږ د «فست فوډ» یو رستورانت ته ولاړو، د کارکونکو له ظاهري څېرو او له انګلیسي ګردود څخه یې سړی پوهېدای شوای چې هسپانیوي ژبي مکسیکویان یا هم د لاتیني امریکې خلک دي. ډېر په سختۍ ورسره پوهاوی ترسره کېده، داسې ګډه وډه انګریزي یې غږوله چې سړی به یې حیران کړ. د یو ګیلاس قهوې له پاره د اضافي شیدو د زیاتولو پر سر له موږ څخه د حوصلې امتحان واخیستل شو. هلته د «سرویس» یا خدماتي کارونو په برخو کې ګڼشمیر هسپانیوي ژبي خلک کار کوي چې ډېری یې نوي دې هېواد ته کډوال شوي دي. د معلوماتو له مخې دوی په کارونو کې زیاته روزنه نه وي لیدلې او معاشونه یې هم کم وي. زیاتره کسان یې د کار په ترڅ کې انګلیسي زده کوي له همدې کبله د مشتري په غوښتنه سم نه پوهېږي.

ارقام ښیي چې د امریکا د نفوس ۱۵٬۴ سلنه برخه له کډوالو څخه جوړ دی.د کډوالو لویه برخه د مکسیکو، هند، چین او فلیپن وګړي دي. امریکا ته د افغانانو تګونه هم په بېلابېلو پړاونو کې ترسره شوي دي چې اکثریت یې په افغانستان کې له سیاسي بدلونونو او جګړو سره تړلي دي. وړاندې له دې څخه چې امریکا ته د افغانانو د تللو پر پړاونو لږ تم شو، راياد شو چې ظاهرشاه د افغانستان لومړنی پاچا و چې امریکا ته په رسمي سفر تللی و او هلته یې له ولسمشر «جان.ایف.کینډي» سره په سپینه ماڼۍ کې لیدلي وو. د هغه سفر مستند فلم چې کله وینم، سترګې مې له اوښکو څخه ډکې شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د ولسمشر داود خان د واکمنۍ پرمهال یو شمیر محصلین د سکالرشیپونو او دولتي بورسونو له لارې امریکا ته واستول شول. د ۱۹۷۸م کال د اپریل له کودتا وروسته، د سیاسي بې ثباتۍ له امله ډېری بېرته هېواد ته ستانه نه شول او هلته پاتې شول. دغه راز په امریکا کې د افغانستان د سفارت کارکونکي هم د کودتا او بیا د شوروي د نفوذ له امله هېواد ته له تللو څخه ډډه وکړه. کله چې روسانو پر افغانستان باندې یرغل وکړ زرګونه افغانان پاکستان او ایران ته کډوال شول چې بیا وروسته امریکا د کډوالو لهپاره د ملګرو ملتونو له عالي کمیشنرۍ سره په همغږۍ د هغوی ګڼشمیر خپل هېواد ته د کډوالو په توګه ومنل. د دوی په منځ کې د شوروي ضد دریځ لرونکي کسان، استادان، ډاکتران، انجینران او هغه کسان شامل وو چې د حاکم رژیم نه خوښېدل.

د ۱۹۹۲ م کال پرمهال چې په افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل شوې، د کډوالو یوه بله لویه څپه امریکا ته ولاړه او هلته میشت شول. د طالبانو د لومړۍ واکمنۍ پرمهال هم یاد هېواد ته د افغانانو مهاجرتونه ترسره شول خو د کډوالۍ تر ټولو لویه څپه د ۲۰۲۱م کال پرمهال وه چې طالبان د دوهم ځل لهپاره واک ته ورسیدل.

امریکا ته د کډوالۍ په وروستۍ څپه کې زما ډېر نېږدې دوستان، پخواني همکاران او د پوهنتون همصنفیان هم شامل وو چې اوس یې هلته ژوند اختیار کړی و. له نیکه مرغه هلته له ځینو نویو افغانانو سره هم اشنا شوم. هر چا د یو مړي ډوډۍ د پیدا کولو لهپاره خواري کوله، د زیاترو زړونه مسافري نري کړي وو، د ټولو په خولو د وطن نوم و، ما به له ځان څخه دا پوښتل چې: موږ د چا د تېروتنو سزا وینو چې د مور وطن له غېږ یې رابېل کړي یو؟

زموږ د رُخصتۍ موده پوره شوه، په کومه ورځ چې بېرته کور ته راتلو نو له ورور او وریرونه سره مخه ښه هم اسانه نه وه، د ټولو په سترګو کې اوښکې ډنډ وې، وریرو مې همدا وېل چې بیا څه وخت سره وینو؟ دې انقلابونو او جنګونو څنګه خپل خپلوان او نېږدې عزیزان سره پاشلي دي.

پای

ستاکلهم – سویډن

۲۰۲۵/۹/۱۹


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ